مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: احسان الله اړینزی

۲۰۲۴/۰۴/۱۶

# د غزني د لوی عارف حکیم سنایي د استاد، خواجه اسمعیل شنیزي مزار

## میدان وردک ولایت د تاریخ په اوږدو کې

### وردک د تاریخ په بهیر کې سیمینار

### دوولسمه مقاله

افغانستان د ډېرو باوري اسنادو، مدارکو او شواهدو په استناد، له مدنیت څخه د ډك لرغوني او وياړن تاريخ خاوند دی چې د هغې په اوږدو کې یې د علم، پوهې، حکمت، فلسفې، ادب او هنر په ډګرونو کې د فارابي، ابن سینا ، البیروني، خوشال خان، خواجه عبدالله انصاري، سنایي، رحمن بابا، بلخي مولانا، جامي، بایزید انصاری، بهزاد او حمید مومند په شان په سلګونو نوموتي خدای پالونکی، مفسرین، فقها، پوهان، حکیمان، عارفان، شاعران او هنرمندان روزلي چې افکارو او اثارو یې د نړی د تمدن او فرهنګ د لويي ودانی په جوړولو کې پوره مرسته کړی ده.
یو له دې پوهانو څخه چې په نامه یې تل ویاړو، د هېواد نامتو شاعر، حکیم ابوالمجد مجدود ابن ادم سنایي غزنوي دی چې د ولسمشر ارواښاد محمد داوود خان په وخت کی یی، په 900 تلین یو درونд علمي سیمینار په کابل او غزنی کی جوړ شوي و.
نهه نیمي پیړی مخکې حکیم سنایي د هېواد د پوهې، حکمت او فلسفي په هسك کې د یوه ځلانده ستوري په شان وځلید چې دا دی د خیر او فیض پلوشي یې له پیړیو – پیړیو وروسته د کلیات، حدیقه، سیرالعباد الی العیاد، طریق التحقیق، کارنامه بلخ، عشق نامه، عقل نامه او بهرام او بهروز په پانو کې موږ ته رارسیدلي.

حکیم سنایي لکه څنګه چې وروسته پخپله ښوونکی شو او د ډېرو نورو کسانو له پاره یې د پوهې او حکمت د یوه مرکز او منبع حیثیت غوره کړ، د مخه د علم او پوهي یو زده کوونکی و چې خپله یې هم په دې واقعیت په پوره صراحت اعتراف کړی او یوه ښه امانت ساتنه یې موږ ته په میراث پرېښی.
یو له هغو کسانو څخه چې حکیم سنایي یی په شاګردي وياړي او خپل هر څه د ده له برکته بولي، خواجه اسمعیل شنیزی دی چې د غزني د لوی حکیم په دیوان کې په یوه اووه بیتیزه غزله کې په ډېر درنښت او درناوي یاد شوی.
غزل داسی دی:

علم و عمل خواجه اسماعیل شنیزي
رسانید ما را ز ناچیز به چیزی
ما کبك دری بوده گریزنده ز کبکی
او کرده دل ما چو دل باز گریزی
در کارگه و بارگه حکم و فنا یافت
جان و دل از دو سماعیل عزیزی
دین تازه شد از صدق سماعیل پیمبر
جان تازه شد از دین اسماعیل شنیزی
چونان که سنایي را او قدر شناسد
ای بخت بدو گوی تو با بخت قوی زی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې غزلې پيل (علم و عمل خواجه اسماعيل شيزى) څرګندوي چې حکيم سنايي د خواجه اسمعيل شنيزی څخه علم او عمل دواړه زده کړې وو. په بله ژبه د حکيم د ظاهري او باطني علومو استاد نوموړي خواجه و. دا څرګندوي چې خواجه اسمعيل د پنځمې هجري پيړې په پاى او د شپږمې هجري پيړى په پيل کې د هېواد يو لوى عالم او عارف و چې مريدانو او شاګردانو به ترې علمي او عرفاني استفادې او استفاضې کولې. متاسفانه د اسمعيل شنيزي په باب د معلوماتو منابع زموږ د نورو ګڼ شمېر تاريخي او فرهنګي مواريثو په شان تياره دي او يوازې د غزني د لوی حکيم همغه يوه غزله ده چې د محتوياتو له مخې يې د خواجه اسمعيل شنيزى په لوړ علمي او عرفاني مقام خبرې شوي.
خواجه څوك و؟ څه و؟ د کوم ځاى و؟ او څه يې وکړل؟
دا هغه پوښتنې دي چې بايد د پوره او باوري اسنادو او مدارکو تر موندلو وروسته حکم پرې وشي. تر اوسه پورې په هيڅ يوه تذکره کې د خواجه اسمعيل په باب څه نه دي ليکل شوي او ښايي چې خواجه به داسې يو عالم، عارف او منزوي درويش و چې د غزني يا شنيز له سيمې څخه نه دی وتلی او د شهرت په لټه کې نه و. د خواجه د شخصيت او فضليت په برخه کې هم د غزنوي حکيم تر پورتنۍ وينا پرته نور څه نه لرو؛ خو هغه څه چې اوس- اوس پرې خبرې کولی شو. د اسمعيل په نامه کې د شنيزي مکاني نسبتي نوم او د خواجه لقب دی.
د شنيزي نسبتي مکانی نوم موږ ته وايي چې دی د غزني په مربوطاتو کې د شنيز درې اوسيدونکی و چې اوس هم د غزني او ميدان تر منځ په همدې نامه شته او وردګ پرې ميشت دي.
او ښآيي همدا سبب دی چې اروابناد استاد بينوا په خپل کتاب ( افغانستان نوميالی) کې کاږي: اسماعيل شنيزی د خپل وخت لوی روحاني عالم او په خټه وردګ و(۱).
د خواجه مزار هم د همدې درې جنوب ختيځې خوا ته د وردګو د تنګي په امير ښاره کې موقعيت لري. د دې له پاره چې موږ د خواجه اسمعيل شنيزي د مزار موقعيت ښه درك کړی وي، لومړی به د شنيز او تنګي موقعيت او کلي وڅېړو او وروسته به د اسمعيل شنيزي د مزار په باب خپلې نورې خبرې وړاندې کړو:
د شنيز دره د خروار (ختيځ)، سجاوند (شمال ختيځ)، هفت اسيا(جنوب)، انخی (لويديځ)، جغتو (جنوب لويديځ) او سيد اباد (شمال) تر منځ موقعيت لري او دا لاندې کلي پکې شامل دي: اوتری، ډنډوکی، سلطان خيل، چاردهي، ښټك خيل، پټان خيل، باغك، هادوخيل، حسن خيل، اکه خيل، تره خيل، ښادي خيل، سدوخيل، برات خيل، پتنګ، تودې چينې، لړم، شمشی، سالار، مشن کلا (ماشين قلعه)، کروخيل، خواجه پاچاخيل، بهادرخيل، ابدره، سيرك، سرکول، خواجه ګان،بلنکاش او ملي خيل، چې ټول په اداري تشکيل کې د سيداباد په ولسوالۍ پورې اړه لري.
تنګی د سجاوند (جنوب)، بره کی (ختيځ- شمال)، شيخ اباد او سيد اباد (لويديځ) تر منځ موقعيت لري چې ټول کلی يې ګلی خيل، دولت خيل، سپين ورسك، زړه کلا، دواب، ګلاب خيل،علم خيل، تيمورخيل، کامران خيل، علم خيل، زموچ، رحمن خيل، بابو خيل، اميرښاره، جامت خيل، رنځي خيل، ملاخيل، شاه ګل خيل، موشك خيل، دران، تګاب، ګوډی، قابچي خيل او نور... د سيد اباد د ولسوالۍ په اداري تشکيل پورې اړه لري.
هغه سيمه چې د خواجه مزار پرې ودان دی، د اوسني شنيز له ساحې څخه وتلې او ښه ليرې د تنګي درې په وروستنۍ برخه کې لوګر ته نژدې پرته ده؛ خو دا چې د مزار تر څنګ د ده د نورو خپلوانو (لکه خواجه سيف الدين چې خلك يې د ده تره يا اکا بولي) قبرونه شته، ښکاري چې دا به د دوی پلرنی هديره وي او د دې له مخې په آټکلي توګه ويلی شو چې د ده د ژوند په وخت کې به شنيز پراخه و او دا کلي به هم په شنيز پورې مربوط بلل کېدل. لکه چې همدا اوس هم ځينې کسان څو هغه کلي چې د اوسني شنيز له منځنی سيند څخه پورى غاړه يا د ګوربت غره خوا ته په لږ ليرې واټن کې پراته دي، د شنيز نه بولي؛ خو په حقيقت کې په شنيز پورې تړلي کلي او په همدې جغرافيايي ساحه کې پراته دي.
سرکول، سيرك، بلنکاش او ابدرې هغه کلي دي چې ځنې خلک يې اوس د شنيز له مربوطاتو څخه نه بولي، په داسې حال کې چې د سيمې سپين ږيری ټول نوموړي کلي په شنيز پورې مربوط بولي او داسې ګومان کوي چې شنيز به پخوا ډېر پراخه و.
همدا راز د اسمعيل شنيزی په نامه کې د خواجه د لقب په ارتباط بايد ووايو چې په شنيز او تنګي کې د خواجګانو په نامه څو کلي اوس هم شته چې اوسيدونکي يې ځانونه په وردګو کې خواجه ګان بولي.
د خواجه اسمعيل شنيزي مزار د تنګي د امير ښاره کلي په شمال ختيځه برخه کې پروت دی. د خلکو د وينا له مخې د ده قبر له پخوا راهيسې زړه ګنبده درلوده، دا ګنبده په کال 1337 هـ ش کال کې ونړېده او د سيمې خلکو دا اوسنی کوټه پرې جوړه کړه. اوسنی کوټه 9/5 متره اوږدوالی، 7/3 متره سور او له ځمکې څخه 3متر لوړوالی او يوه ارته او ښکلې ګنبده لري. د ودانۍ د ننوتلو دروازه په شمالي اړخ کې ده او په دريو نورو خواوو کې يې 1X1.30m کوچنی کړکی جوړې شوي. د منځ له خوا د ودانۍ ګرد چاپيره د هغو ټکرانو په ټوټو ښکلی شوې چې قراني متبرکه ايات او احاديث پرې کنډل شوي. د خواجه قبر د دې کوټې په منځ کې پروت دی چې د ځمکې له مخ څخه د خټو جوړ شوی، خو تر دريو دندانو وروسته د مرمر ډبرين قبر پرې ايښی. قبر د پښو خوا ته د قبلې په لور د کوټې جنوب ختيځه خوا کې يو بل قبر هم شته چې د خلکو د وينا له مخې د کنړ په ساداتو پورې اړه لري. همدا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

راز د مزار په خاورينه محوطه کې څو نور قبرونه هم شته چې يو يې په خواجه يوسف بابا معروف دى چې د خلکو د وينا له مخې د خواجه تره يا اکا او شاطر و.
د خواجه د مزار ډېر لرغونى ډبرليکونه نه لري، د قبر په موجوده ډبرليکونو کى سنه 1082 هـ ق کښل شوي. د دې ډبرليك محتويات داسى لوستل کېږي:
له سر خوا نه : (هذا مرقد منور قطب المحققين و السالكين و العارفين خواجه اسماعيل شنيزى)
د ښنو خوا ته:

علم و عمل خواجه اسماعيل شنيزى
ما را برسانيد ز ناچيز بچيزى

بامر ريس غلام على و سبزعلى خان ريس حيدر محمد تگابى(1) فى التاريخ رابع العشر ربيع الثانى فى يوم الاربع سنه(1072) او د قبر د شا او خوا په سپينه ډېره باندې اية الكرسي شريف ليكل شوي. همدار راز د خواجه د مزار د دروازى په سر يو ډبرليک نصب شوى چې بسم الله الرحمن الرحيم، طيبه كلمه، درې کرښې قراني مبارک آيات او د حكيم سنايي پورتنى بيت پرې كښدل شوى دى:

علم و عمل خواجه اسماعيل شنيزى
ما را برسانيد ز ناچيز بچيزى
په دې سر بېره له مزار نه بهر د ودانى په شمال لويديځ کونج کې يو ډبرين طبق (لويه كاسه) شته چې په ځنډو يې ليكني شوي دي. له بده مرغه چې د دې ليکنو ډېره برخه ړنګه شوې او له مينځه تللې. صرف په يوه برخه کې يې دا عبارت لوستل کېداى شي: (سنه 1072 بود كه اين طبق حضرت خواجه اسماعيل عليه الرحمة و الغفران ساخته شد).
نور نو په مزار کې اسناد او مدارک نه مومو، د سيمې خلک حضرت خواجه د يوه لوى روحاني شخصيت او د سنايي صاحب د استاد او لاربنود په توګه پېژني. د سيمې، ولايت او د ګران هېواد يو شمېر خلک د خواجه اسمعيل بابا زيارت ته خاص عقيدت لري او په ليدو يې سترګې رڼوي. د سيمې په خلكو کې د خواجه د كراماتو په هكله ډېرې كيسې او روايات شته او د سيمې يو منځنى ښوونځى هم د ده په نامه نومول شوى.
دا و د هېواد د لوى شاعر حكيم سنايي د پير او استاد خواجه اسمعيل شنيزي د مزار په هكله لومړني معلومات چې دلته د راتلونكو څېړنو د پيلامې په توګه وړاندې شول. ډېره هيله شته چې يوه ورځ به د خپلو نورو ملي او فرهنګي مواريثو د روښانتيا په لړ کې، د خواجه اسمعيل شينزي د ژوند، تعليم، تدريس او اثارو په برخه کې ډېر معلومات ولرو.
وروستي معلومات ښيي له نيكه مرغه چې د خواجه اسمعيل بابا قبر، هديره، كوټه او ګنبده اوس هم د خلكو په مرسته روغ دي او كه يې د تېرو اووه ديرشو كلنو جګړو په ترڅ كې زيان هم ليدلى، ژر بېرته رغول شوى او دروازه يې د خلكو په مخ پرانستى ده.

**اخځونه:**

**1. عبدالروف بينوا، د افغانستان نوميالي، دريېم ټولک، 1356 هـ.ش، كابل،**
**2. تګاو د تنګي په پاى او د لوګر په پوله د يو كوچني كلي نوم دى. د خواجه اسمعيل شنيزى د مزار (امير ښار) او تګاو تر منځ دراني او ستې آباد كلي پراته دي او بيا تګاو راځي چې د تنګي او وردګو وروستى كلى دى او بيا لوګر پيل كيږي.**

---

**· احسان الله آرينزى د ارواښاد حاجى محمد عمر وردک زوى، د كال 1333 هـ – ش د جدى په ديرشمه ، د كابل په زاړه ښار (شور بازار) کې زېږيدلي، غازى محمد ايوب خان ښوونځى يې لوستى (1344 هـ – ش)، نادريه ليسه يې پاى ته رسولي (1350 هـ - ش) او د كابل پوهنتون له اقتصاد پوهنځى څخه يې د پيسو او نړيوال پولى سياست په څانګه کې ليسانس ديپلوم ترلاسه کړى او بيا يې لس كاله په افغانستان صنعتى پراختيا بانک کې كار کړى.**
**آرينزى په هندوستان، شوروي اتحاد او جرمني کې د بانكى خدماتو، ادبياتو او د راديو – تلويزيون د مديريت په برخو کې كورسونه ويلي، په پښتو، دري او انګليسي ژبو خبرى كوي او له تېرو اتلسو كلونو راپديخوا د افغان بيسيم مخابراتى شركت او آريانا راديو – تلويزيون همكار و او اوس په فرهنګي چارو بوخت دى.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

**د آرینزی لومړنی مقالی په 1354 – 1356 کې د عرفان، ننګرهار، کندهار او ژوندون مجلو کې خپرې شوي، تر اوسه یې 24 کتابونه (ژباړه او لیکلي) خپاره شوي چې د ځینو نومونه دا دي: د میني افسانه، تور غاټول، مور او زوی، وړی مین، د ادبیاتو هدف، سیل، شلیدلي تارونه، نښه، آسیا، امریکا، افریقا، اروپا، استرالیا، مطالعه امکانات خود کفایي افغانستان از تولیدات شکر، د وردګو د واده دود او بدلې ؛ وردک، وردګ، ویهارادک او ویاردک ( د سیمینار د مقالو مجموعه)، د محمدجان خان وردک ژوند او مبارزه، نوٸیوالې ټولنې او داسی نور.**
**آرینزی د نړۍ نژدی 50 هېوادونه ته سفرونه کړي، په تاجکستان، عربی متحده اماراتو، پاکستان، هندوستان، اتریش او هنګری کې یې په لسو نړیوالو سیمینارونو او کنفرانسونو کې برخه اخستی. دری کاله د آسیا د آزادو رسنیو د دفتر South Asia Free Media Association (SAFMA) رییس او دوه کاله خبرال سکرتر و، د سفما او ژورنالیستانو د دفاع کمیټی غړی و ، واده یې کړی او د شپږو اولادونو پلار دی.**
**.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ